# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد       بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم       از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com       afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
| --- | --- |

محمد هارون خپل شعشعي

۰۴ سپتمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۴

### ۵- اَبرار ( د الف په زْوَر) :

د ابرار عربي ټکی هم د ابدال په څېر د جمعي حالت دئ، چي يوه يا مفرد ته يي « بر » وايي[۱]؛ او په لغت کي د نېکانو، صالحانويا ښو خلګو په مانا راغلئ دئ . ابرار په تصوفي او عرفاني اصطلاح، د الله تعالی له هغو نېکو دوستانو څخه دي، چي شمېر يي اووه کسه ګڼل سوئ دئ[۲]. د صوفيانو د تشکيلاتي جوړښت له مخي د ابرارو دله تر رجبيونو، سرهنګانو يا اخيارو او ابدالو لوړ؛ خو د اوتادو، نقيبانواو امامانو تر دلو، کښته ځای لري.

د ابرارو هر غړی د خپلو عرفاني او روحاني دندو تر بريالي سرته رسولو وروسته، د اوتادو څلور کسيزي ډلي ته لوړيږي . دغه راز، د ابرارو په رحلت سره د ابدالو د ډلي يو وتلئ غړی، ددې ډلي غړيتوب تر لاسه کيي . د وليانو دا طبقه هم دهغوو نورو طبقو په شان، تل دالله په فکراو ذکر، د الهي رحمت په تر لاسه کولو او د خلګو په عرفاني او روحاني روزنه بوخته ده .

د علي محمد مُخلِص په د يوان کي مي دا عرفاني اصطلاح تر سترګو نه سوه؛ خو له نورو ورته عرفاني اصطلاحاتو او ټکو سره مي د هغه د نيژدې اړيکي په وجه، دلته په لنډه بڼه تشريح کړه .

**دنور مالومات دپاره وګورئ :** ابدال، اوتاد، اخيار يا سرهنګان ، کامل شيخ، کامل پير يا کامل انسان ، کامل او ازاد ، قطب، قطب الاقطاب ، غوث، غوث الاعظم، غوث زمان يا صاحب الزمان ، معجزه، کرامت او استدراج ، نبي او ولي ، نقيبان ، ولي او ولايت .

لمنليکونه

۱ عميد ۱ : ۸۸ . استاد حسن عميد دخيل دري جلدي فرهنگ ( فرهنگ فارسی عميد) په لومړي ټوک (۳۸۸ مخ) کي د اَبرار مفرد حالت (بر) د«ب» په پېښ او د «ر» په سکون راوړئ دئ؛ په داسي حال کي، چي د علامه دهخدا په لغتنامه، د ډاکټر معين په فارسي فرهنګ او د هانس وېر د اوسنی عربي په معتبر فرهنګ يي دا ټکی د «ب» په فتحه او د«ر» په سکون ضبط کړئ دئ .

۲ هجويري ۲۶۹ ؛ رزمجو ۲۳۰ .

## ۶- اِتحاد او حُلُول :

د اسلامي تصوف او عرفان په بېلابېلو آثاروکي، ډېر ځله د اِتِحاد (د «الف» او «ت» په زبر) او حُلُول (د «ح» او لومړي «ل» په پېښ) عرفاني - فلسفي اصطلاح ګاني تر سترګو کيږي. زموږ د اندېشمند عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، په ژور عارفانه او فلسفي کلام کي د دې نظريو تر شنلو مخکي، لومړی په لنډه توګه ددې ا اصطلاحاتو لغوي او عرفاني ماناوي بيانوو .

الف) اِتِحاد:

د اتحاد عربي ټکی له لغوي اړخه د يووالي، يوکولو، يوموټي کولو، غونډولو او يو ځای کولو په مانا دئ۱. په اسلامي تصوف او عرفان کي، اتحاد د مطلق واحد( حق تعالی) د وجود شهود دئ . ياني ټول شيان په واحد وجود سره موجود؛ او په خپل ځان کي نيست او معدوم دي۲ . دې ټکي ته په پاملرني سره، چي بې خدايه بل شی حقيقي وجود نه لري، له موجوداتو سره د خدای يو ګڼلو ته اتحاد او پلويانو ته يي اتحاديه وايي۳ . په دې ډول، د اتحاد نظريه د موجوداتو او مطلق واحد تر منځ د يووالي او اتحاد مسأله بيانوي .

وتلي عرفاني مُفکر - شېخ عزيزالدين بن محمد نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) د وحدت د عرفاني او فلسفي نظريي پلويان پر دوو ډولو وېشي : د نور او نار ډلي .

شېخ نسفي، په خپلو عرفاني آثارو «کشف الحقايق» او «زبدة الحقايق» کي د وحدت د فلسفي ښوونځي د نظريو په تفسيرکي ليکي : «د وحدت څښتنان دوې ډلي دي، چي يوه ډله يي وجود يو ګڼي؛ او بله ډله يي وجود پر حقيقي او خيالي [ډلو] وېشي : خدای حقيقي وجود بولي؛ او کاينات خيالي وجود. په بله ژبه، خدای ته د نيست ډوله هستی [يا هغه هستی چي په ظاهره نه ښکاري] او موجوداتو ته د هستي ډوله نيستی[ يا هغي هستی] په سترګه ګوري [چي ظاهراً په سترګو ليدل کيږي؛ خو په حقيقت کي هستي او بقاء نه لري .] د دې فکر خاوندان ځانونه د وحدت ډله بولي؛ مګر نور يي د سوفسطائيه په نامه يادوي۴. » شېخ نسفي زياتيي : «د وحدت دا ډله په معاصرو عرفاني او فلسفي آثارو کي د « وحدت الشهود» په نامه هم ياديږي .» د شېخ نسفي په نظر، که څوک له مومو سل شيان جوړ کړي؛ او د هغو له جوړېدو څخه د اړتيا له مخي سل شکلونه او سل نومونه پيدا سي، عاقل انسان پوهېږي، چي بې مومو بل څه نسته؛ او دا ټول پيدا سوي نومونه په حقيقت کي د مومو نومونه دي . په بله وينا، جوړ سوي سل شيان په حقيقت کي موم دي، چي په بېلابېلو بڼو، اضافاتو او اعتباراتو سره وړاندي سوي دي۵ .

بل ځای د خدای تعالی نور له شمي (شمعي)؛ او د کايناتو مخلوقات له هيندارو سره تشبيه کيي . د ده په عقيده،که څه هم په بېلابېلو هينداروکي، بېلي بېلي شمي تر سترګو کيږي؛ خو په حقيقت کي شمه ( شمع) همدا يوه شمه ده، چي په ټولو هيندارو کي جلوې کيي۶ .

د « وحدت الوجود» هغه پلويان، چي شيخ نسفي په خپلو آثارو کي، د نور د ښېتنانو په نامه ياد کړي دي، د دووهستيیو (حقيقي او خيالي) د اتحاد نظريه ناسمه بولي . هغوی استدلال کيي : تر هغه مهاله، چي هم د خدای نوم پاته يي؛ او هم ستاسي نوم پاته يي؛ په حقيقت کي هم د خدای وجود ثابتوئ؛ او هم د خپل وجود د اثبات دپاره هڅه کوئ؛ هم خدای پیژنئ اوهم ځان . په دي وجه، له وحدت څخه ليري، د شرک په مقام کي ياست . ستاسي دا معرفت او پيژندنه بي گومان او غروره، بل څه نه ده[7]. د «وحدت الوجود» پلويان په پای کي نتيجه اخلي : هرڅه چي موجود دي، ټول په ګډه د خدای وجود دئ . د هغه په وجود کي دوه ګون والی او څووالی ناممکن دئ . وجود يوازي د خدای وجود دئ؛ او بي خدايه بل وجود نشته[8] . . .

لکه څنګه چي ګورو، د «وحدت الوجود» د فکري ښوونځي پلويان د الله تعالی (ازلي او ابدي، حقيقي او بي مثله هستی) او د هغه د موجوداتو (خيالي، عکسي او ظلي هستی) تر منځ اتحاد، په بشپړه توګه ناروا او ناسم ګڼي .

زموږ انديښه پرداز عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپله شاعري کي د اتحاد نظريه رد کړي ده . هغه په يوه ښکلي غزله کي په ټولو کايناتو کي، يوازي د «وحدت بحر» ګوري او بس. د دي ناپايه او بي مثله بحر پر مخ څپانده موجونه، اوبه، يخ، ځګ او داسي نور موجودات ټول د يوي بي ساري هستی( خدای تعالی) د وجود ظاهري نخښي دي . د ده له نظره، دا « محيط بحر» د ګردو موجوداتو مبدأ او معاد دئ . بي دي ژوندي او ابدي دريابه، په کايناتو کي نور هيڅ شی نسته . د ده لوړ عارفانه کلام دئ، چي وايي :

د يــوه وحـدت بـــساط دئ غــوړولئ
دي حيوان، نبات، جماد پر باندي کوتي
د وحدت په نو زرغون ګلزار ليده شي
په دا بــاغ کښي که پتـلـه ويني يا موتي

په يوه بله غزله کي، همدا بي مثله او بي ساري هستي داسي انځوروي :

دا وحدت مثال اوبه کثرت پر يـــخ شه
دغه يخ شه په خو رنګه په خو نام دئ
دا وحدت په مثال ببخ، کثرت ښاخونه
د يــوه ميــوه پــخه د بل خو خــام دئ

د مخلص ټوله عرفاني او فلسفي شاعري، په حقيقت کي د همدي يوه وجود د لومړيتوب او ابديت، قدرت او عظمت، لوی والي او بي مثلی، ژور او هونرمندانه بيان دئ . د ده په عرفاني نړۍ کي، نه يوازي هيڅ شي تر دي هستی دباندي نه دئ، بلکي هيڅ شی اصلاً تر دي هستی دباندي، وجود نسي لرلای . لکه څنګه چي وايي :

يو وجود ګورم کثيف، لطيف، الطـف شه
خاښ و پاني، ګل، ميوه شي له محيـطه
لاهوت ببخ، جبروت خاښ شه په درخت کښي
ملکوت، ناسوت يي ګل، ميوه ربيــطه

بل ځای، د « اتحاد» په رد کي د «وحدت الوجود» دا ښکلی انځور وړاندي کيي :

نن مي وليده په هر څه کښي عيــان يو

رنگ په رنگ جامي يي واغوستي تابان يو
په لباس کښي نه پټيږي له عـارفه
هر وجود سره موجود ويني جــانان يو
جانان يو آيني ډېري په جهـان کښي
په زرگونو آينو کښي شه رخشـــــان يو
هر اشيا احد مظهر کړه چي۹ ليـــده شي
په مظهرو کښي ليده شي تل عريـان يو

ب) حُلُول :

حُلُول په لغت کي راتگ، پيل، ظهور، پيښېدلو، تم کېدو، درېدو، نزول او په يوه بدن کي د بل چا د اروا ننوتلو ته وايي۱۰. د اسلامي تصوف او عرفان په اصطلاح، حُلُول په شيانوکي، دخداى تعالى د ذات ننوتلو ته وايي . هغه کسان چي د حُلُول نظريه مني، د «حُلُوليه» په نامه ياديږي . «حُلُوليه» ډله په اسلامي تصوف او عرفان کي هغه ډله وه، چي ويل يې، د خداى تعالى اروا په آدم ( ع )، نورو پيغمبرانو او پيرکي حُلُول کړئ دئ . د حسين بن منصور حلاج (۲۲۴ ـ ۳۰۹ هـ ق) پلويانو ته هم د «حُلُوليه» نوم ورکړل سوئ ؤ، چي باور يې لاره، خداى په خورما (خرما) کي د خوړوالي په شان حُلُول کړئ دئ . په شيعه مذهب کي هم ځينو غلو کوونکي، په دې عقيده دي، چي د خداى تعالى روح، په حضرت علي بن ابي طالب کي حُلُول کړى دئ ۱۱.

د اسلامي تصوف او عرفان زياترو وتلو عارفانو او صوفيانو د حُلُول نظريه نه يوازي ناسمه او باطله؛ بلکي دکوپر (کفر) او بې لارى نظريه گڼلي ده . د «وحدت الوجود» د فلسفي مکتب وتلي لاربنوود - شېخ سعدالدين محمود بن عبدالکريم شبستري ( په ۷۲۰ هـ ق کي مړ ) په خپل مشهور عرفاني اثر «گلشن راز» کي د اتحاد او حُلُول نظريه د گمراهى په توگه داسي ياده کړې ده :

« حُلُول و اتحاد اينجا محالست
که در وحدت دويى عين ضلالست ۱۲ »

زموږ بارک بين عارف شاعر، علي محمد مخلص، په خپل عارفانه ديوان کي د حُلُول له نظريې سره هوکړه نه لري . هغه په يوه غزله کي، د کامل پير په لاربښوونه د توحيد زده کړي ته گوته نيسي . مخلص، د حُلُول په ردولو سره، د ذات پېژندنه او د توحيد پوهه، خپل ريښتيني خالق ته د رسېدو يوازنى ضامن بولي :

د توحيد د عِلْم زده کـړه له مرشده
مونده نشي نه له فقي، له اصـوله
اې مخلصه شک دي ټول له ميانه واخله !
له مولا به يگانه شي بې حُلُولـه

لمنليکونه

۱ عميد۱ : ۹۷ ؛ Wehr 1055.

۲ سجادی ۱۳ ؛ حاکمی حاشیهء صفحه۲۶ .

۳ وردی، « تعلیقات، » زبدة الحقایق ۱۲۳.

۴ نسفی، زبدة الحقایق ۸۲ .

۵ نسفی، کشف الحقایق ۱۶۱.

۶ نسفی، کشف الحقایق ۲۲.

۷ نسفی، کشف الحقایق ۱۶۰.

۷ - اخیار:

وگورئ : سرهنگان.

۸ نسفی، کشف الحقایق ۱۵۹.